په لوېدیځ کي د مدني ټولنو د همغږۍ ادبي بهیر ۲۰۱۸/۰۷/۱۵

د هرات ولایت څو مهم وړاندیزونه

ډیرو قدرمنو ښاغلو/ اغلي د محور،افغان کلتوری ټولني جرګی غړو او ټولو کلتوري ملګروته اسلام علیکم ورحمت الله.....! لکه څرنګه چې ټولو ته څرګنده ده، په هرات ولایت کې د زورواکۍ او د یوه ځانګړې قوم او ژبې د حقه حقونو د خوړلو بهیر ورځ تر بلې مخ په پراخېدو دی. کومې ژمنې چې زموږ سره د مرکزي حکومت لخوا ترسره شوي هغه تر اوسه پورې د کاغذ پرمخ پاته دي او هیڅ کم بدلون ندی راغلی دا په داسی حال کي ده چې موږ تل د نظام ملاتړ کړی او کوویی هرهغه څوک چې د اوسني نظام په مقابل کي دریدلی او زموږ مشرانو ته یی سپکاوی کړی د دوی په مقابل کي مو احتجاجونه کړی، مدني حرکتونه مو کړئ تر څو غاښ ماتونکی ځواب مو ورکړئ وي، د دی لپاره چې موږ نظام او حکومت ته ژمن یو، له بده مرغه دلته چې په کومو ادارو کي ځیني تش په نامه پښتانه ځای پرځای سویدی نه تنها چې پښتون قوم ته یی خدمت نه دی کړی بلکه د هغوی حقوق یی په مختلفه برخو کي تر پښو لاندي کړی، او زموږ مشرانو ته د خپل اداري غلط راپور وړاندي کوي او داسی انګیری چې ګواکي موږ پښتنو ته خدمت کړئ او مشران مو غولوي، که تاسي موږ به د هر پښتون رئیس را پور او کړني چمتو کړو تر څویی اصلی څیری په ډاګه سي دا زموږ یوه ستونزه ده، بله ستونزه مو په ځینو نور ادارو کي هم سته لکه د معارف رئیس چې تعصب یی آن ولسمشر ته هم معلوم دی، دلته موږ یو بیطرفه او د خپلو خلکو غمخواره کتله یو نه مو د چاڅخه امتیاز غوښتی نه یی غواړو او نه مو هم هدف د امتیاز غوښتنه ده، غواړو ماشومان مو په خپله مورنی ژبه زدکړي وکړي چې دا د افغانستان دهر وګړئ حق دی ، خو متاسفانه تراوسه مو هڅي بي پایله دي، او بل دا مو اسلامي، ایماني او وجداني دنده ده ترڅو هر افغان خپل حقه حقوق ترلاسه کړي اوبچیانومو د فقر او ګدایی لاس یی دښمن او پردي ته نوي نیولی.
دا او د دی ترڅنګ لاندي اړین کارونه دي چې هرومرو باید پام ورته وسي ترڅو نور نو داستونزو ته د پای ټکی کښیښودل سي:

۱ ـ په هرات ولایت کي د پښتنو ولسونو د بچیانو لپاره په خپله ژبه ۲ لیسي او لیلیی کوم چې امر یي اخیستل شوی او هرات ته راغلی خو تر اوسه یي عملي کار نه دی پیل شوی.
۲ ـ د هرات ولایت ښاروالۍ ریاست لپاره نوماندان:
لومړی ښاغلی ډاکتر نور احمد حیدری علیزی
دوهم ښاغلی اینجینر محمد نادر کاکړ
د باور وړ نوماند دی چې د هرات ټولو اولسونو باور انشاالله له دوي سره شته.

۳ ـ د هرات ښاروالۍ ریاست کي د ښو اشخاصو ګمارل چې راتلونکو ټاکنو لپاره بیا د ښه پیاوړي ټیم جوړول او هرات ټولي اولسوالي او ورسره د حوزوی ولایتونو ته پوره پاملرنه کول چې ډیر اړین دي.
۴ـ د هرات د معارف رئیس نور په هیڅ وجه نه منو.
۵ ـ په هرات ولایت کي د ځینو ادارو د رئیسانو لکه د کوچیانو ریاست، د قبائیلو ریاست، د مهاجرینو ریاست او حج اوقافو ریاستونو بدلول.

۶ ـ خپل هغو رئیسانو ته سپارښتني کول چې د ریاست د لومړی ورځي تر نن پورې یي کوم کار ولسونو ته نه دی ترسره کړئ لکه د پوهنتون ریاست، د طبعي پیښو په وړاندي دچمتوالي ریاست، د کار او ټولنیزو چارو ریاست، د اطلاعاتو اوکلتور ریاست او د را ډیو او تلویزون ریاست.

۷ ـ په هرات ولایت کي ولسي جرګي ته د ځینو خپلواکو نوماندانو څخه ملاتړ.لاندی نوم لړ ئي هم دا دی.

۱ ـ احمد فرهاد بارک	مستقل
۲ ـ جمعه ګل رحماني	مستقل

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

۳- حاجی شاه پور پوپل	مستقل
۴- حاجی غلام یحی اکبری الکوزی	مستقل
۵- ډاکتر نادر رادمنش علیزی	مستقل
۶- ریزه ګله خلیل اسحاقزی	مستقل
۷- محمد عمر روښان	مستقل
۸- مژده نورزی	مستقل
۹- مسعوده کروخی	مستقل
۱۰- نور آغا شینډنډ وال	مستقل

۸ ــ د سولې بهیر د ملاتړ لپاره ستاسو مشرانو سپارښتنې به عمل کوو
په ډیر درنښت،
په لوېدیځ کې د مدنې ټولنو د همغږۍ ادبي بهیر.
مجروح. هرات

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ